Afghanistan Institute of Rural Development
Monthly Newsletter 2019 April

د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېټیوټ
انستیتوت انکشاف دهات افغانستان
خبرپاڼه - خبرنامه

# د پایدارې کلیوالي پراختیا په برخه کې د فوق لیسانس یو کلن پروګرام د لسمې دورې دویم سمستر پای ته ورسېد




د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېټیوټ د بورسیو او فېلوشیپونو د تنظیم آمریت د پایدارې کلیوالي پراختیا په برخه کې د PGDSRD یو کلن فوق لیسانس پروګرام د لسمې دورې دویم سمستر پیل کړ.

دغه سمستر د هند د کلیو د پراختیا انستېټیوت NIRD د دوه تنو ښوونکو په ګډون پیل شو، د دولتي او غیر دولتي بنسټونو ۲۴ تنو کارکوونکو پکې ګډون کړی و چې د ۱۰ ورځني حضوري ټولګي او د ګډونوالو د ارزونې له آزموینې وروسته، د دغه پروګرام د لسمې دورې دویم سمستر پای ته ورسېد.

د یادونې وړ ده چې د PGDSRD یو کلن فوق لیسانس پروګرام د پایدارې کلیوالي پراختیا په برخه کې له تخصصي پروګرامونو څخه دی چې د هند د کلیو د پراختیا انستېټیوت په همکاري هر کال د افغانستان د کلیو د پراختیا په انستېټیوت کې تر سره کېږي.

# د کلیوالي ټکنالوژۍ له پارک څخه د هند د کلیو د پراختیا انستېټیوت پروفیسرانو لیدنه وکړه

د هند د کلیو د پراختیا انستېټیوت دوه تنو پروفیسرانو، ډاکټر آر. موروګېسن او ډاکټر ډي. آر. رمېش، د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېټیوت سرپرست عبدالمنیر وکیلي او د کلیوالي ټکنالوژۍ د پارک او د بورسیو او فېلوشیپونو آمریت ټیمونو په ګډون د کلیوالي ټکنالوژۍ له پارک څخه لیدنه وکړه.

دوی د ټکنالوژۍ د پارک په اړه د انستېټیوت له مسوولینو سره خپل نظر شریک کړ او د دغه پارک په لیدلو یې خوښي څرګنده کړه او د داسې پارک شتون یې د هېواد د متشبثینو لپاره ښه الګو وباله، همدارنګه د کلیوالي ټکنالوژۍ د معرفي په برخه کې د هندي متخصصینو لخوا د همکارۍ ډاډ ورکړ.

دغو ښوونکو د دغه پارک امکانات او راتلونکې د هند د کلیوالي ټکنالوژي له پارک څخه غوره وبلل او د دغه پارک له معرفي، پراختیا او د لاسي صنایعو د عنعنوي مېلې په ترسره کولو یې ټینګار وکړ.

دا په داسې حال کې ده چې یاد هندي پروفیسران د پایدارې کلیوالي پراختیا د فوق لیسانس یو کلن پروګرام کې ګډون کړی و او د دواړو انستېټیوټونو ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ په موخه د کلیوالي ټکنالوژۍ له پارک څخه لیدنه وکړه.



Afghanistan Institute of Rural Development

Monthly Newsletter 2019 April

د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت

انستيتوت انکشاف دهات افغانستان

خبرپاڼه - خبرنامه


# د «د کليو په پراختيا کې د هندوستان تجربې» تر نامه لاندې علمي سيمينار جوړ شو

د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت د علمي سيمينارونو په لړ کې د «د کليو په پراختيا کې د هندوستان تجربې» تر نامه لاندې دوه ډېرشم علمي سيمينار د دغه رياست په تالار کې تر سره کړ.

د دغه پروګرام وياناول د هندوستان د کليو د پراختيا انستېټيوت دوه تنه پروفيسوران، ډاکتر. آر. موروګېسن او ډاکتر. آر. رمېش وو. ياد استادان په خپلو خبرو کې، په هند کې د کليو د پراختيا د بهير په مرحلو و غړبدل او خپل معلومات او تجربې يې د سيمينار له ګډونوالو سره شريک کړل او همدارنګه په لاندې کليدي موضوعاتو يې بحث وکړ:

- په هند کې د کليو په پراختيا کې د ښځو برجسته کول؛
- د کرنې انقلاب؛
- په هند کې صنعتي انقلاب او د کليو بدلون؛
- دندې او د کاري فرصتونو رامنځته کول؛
- د کار د خونديتوب پروګرام او قانون
- د کليو د معيشيت ملي ماموريت؛

همدارنګه عبدالمنير وکيلي د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت سرپرست، له نومړو استادانو او د هند د کليو د پراختيا انستېټيوت له هر اړخيزو همکاريو مننه وکړه او د دغو پروګرامونو پر بيا جوړولو يې ټينګار وکړ. دا په داسې حال کې ده چې د کليو د پراختيا انستېټيوت موخه د علمي پروګرامونو جوړول، د پوهې د کچې لوړول، او د کليو د پراختيا په سکتور کې د معلوماتو او تجربو شريکول دي.

په دغه سيمينار کې د وزارت د رياستونو او برنامو شاوخوا ۱۰۰ تنو مديرانو او کارکوونکو ګډون کړی و او پروګرام د پوښتنو، ځوابونو او د افغانستان د کليو د پراختيا په موخه د حللارو په وړانديز سره پای ته ورسېد.



## عبدالصمد باهر ستانکزی د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت د اجرايوي رياست د سرپرست په توګه و ټاکل شو



د کليو د بيا رغونې او پراختيا د وزير ښاغلي پوهنمل مجيب الرحمن کريمي د حکم پر بنسټ د روان کال د وري د مياشتې په ۲۱مه نېټه، ښاغلی عبدالصمد باهر ستانکزی د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت د اجرايوي رياست د سرپرست په توګه وټاکل شو او د مالي او اداري معين ښاغلي معراج الدين شمس او د بشري سرچينو رييس ښاغلي محمد نور کتوازي لخوا د دې اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو؛ همدارنګه يې د کليو د پراختيا انستېټيوت د سروې د آمر ښاغلي عبدالمنير وکيلي څخه د سرپرستۍ پر مهال له زيار او زحمتونو مننه وکړه.

# د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت کې د «يو کارمند_يو کتاب» د کتاب راټولولو يو مياشتنی کمپاين پيل شو

د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت د کتاب د نړيوالې ورځې په مناسبت د کتاب را ټولولو يو مياشتنی کمپاين چې لاندې موخې لري، پيل کړ

- د وزارت د کارکوونکو تر منځ د مطالعې او کتاب لوستلو د کلتور دودول او پراخول؛
- د افغانستان د کليو د پراختيا انستېټيوت د اوسنی کتابخانې غني کول؛
- د ګډون او سهم ګيرۍ د کلتور دودول؛

د يادونې وړ ده چې دغه کمپاين د اپريل په ۲۳مه چې د کتاب له نړيوالې ورځې سره برابره، ده په رسمي ډول پيل شو او يوه مياشت به دوام وکړي.

راځئ چې د انستېټيوت کتابخانې ته د يو کتاب په ډالۍ کولو سره د دغه کمپاين برخه وګرځو.

